AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۲۲/۰۶/۰۱

# د میرویس نیکه په نامه وهل سوې سِکه

په دې شپو ورځو کې د یوې جدي ناروغی له اسیته د وییپانو له قلمي بهیر څخه لیرې پاته سوی یم. که مې کله کله ځینو سایټو ته سر ور ښکاره کړی هم وي او له ځینو" تشریح طلب" مطالبو سره مخامخ سوی هم یم، په ځان کې مې د څه لیکلو حوصله نه ده موندلې. هیله ده دوستان مې ددې نسبتاً اوږده غیابت له امله وبخښي.

ددې اوسنی لیکنې هڅوونکی عامل د ښاغلي جهاني صاحب هغه مقاله ده چې د " علل افسانه نگاری در تاریخ افغانستان" تر سرلیک لاندې مې په آریانا افغانستان وییپانه کې ولوستله. دا مقاله چې په تاریخ کې د " افسانه نگاری" پر مهمه موضوع ښه د خوند خبرې لرې، دغه راز د راټلونکو زلمیو څیړونکو له پاره د لارښوونې ښه مغزنه پانګه هم لرې. زه په پرنسیب کې ددغې مقالې له محتویاتو سره موافق یم خو د افسانه نګارۍ په مثالو کې د میرویس نیکه په نامه د وهل سوې سِکې په باب د لیکوال د استنتاجونو په منلو کې ستونزې لرم.

د مقالې لیکوال د میر محمد صدیق فرهنگ د " افغانستان در پنج قرن اخیر" له ۷۳ مخ څخه یو نقل قول را اخیستی دئ چې په هغه کې ئې د جوناس هانوې له خولې د میرویس نیکه په نامه د وهل سوې سِکې یادونه او د سکې پر مخ د راغلي بیت د انګلیسي ترجمې خبره راغلې ده . اروابناد فرهنگ د هانوې ددغې یادونې تایید د مرحوم استاد خلیل الله خان خلیلي په یوه لیکنه کې موندلی دئ او کښلي ئې دي چې " ... مضمون بیت به زبان فارسی تا این اواخر مجهول بود تا اینکه استاد خلیل الله خلیلی مضمونی را در مجله ژوندون به حواله آثار تاریخ نویسان عراق نشر کرد که مضمون فارسی بیت مذکور را چنین بیان میکرد:

سکه زد بـر درهم دارالقرار قندهار
خان عادل شاه عالم میرویس نامدار".

ښاغلی جهاني صاحب د هانوې په کتاب کې د نورو افسانوي روایتو پر بنسټ د میرویس نیکه ددغې سکې په باب هم شک ښوولی او د شک تاداو ئې پر دې خبره درولی دئ چې ولې استاد خلیلي ددغه مهم سند عکس نه وو اخیستی او ولې د افغانستان حکومت په دغه تاریخي مسئله کې هیڅ اقدام و نه کړ. ددې پر څنګ ئې د فرهنګ د کتاب له دې جملې څخه چې" ... که مضمون فارسی بیت مذکور را چنین بیان میکرد"، داسې نتیجه اخیستې ده چې" ... اشکار میگردد که این بیت به کدام لسان دیگر غیر فارسی بوده است و مرحوم خلیلی انرا به زبان شیرین دری ترجمه نموده بود".

د مرحوم فرهنگ پر یوه یکړ روایت باندې چې هغه هم نقل النقل دئ، دغسې غوڅه نتیجه بنا کول، د محتاطو څیړونکو له خوا کړل کیږي.که مطلب د حقایقو سپړل او څرګندول وای، نو ښاغلي لیکوال ته په کار وه چې د مرحوم فرهنگ ددغه نقل النقل په باب ئې هم څیړنه کړې وای او صحت و سقم ئې ځان ته معلوم کړی وای.

څرنګه چې ما ته ددغې سِکې د کشف جریان تر یوې اندازې معلوم دئ، غواړم د موضوع د ښه ترا سپینېدو په خاطر خپله څیړنه له درنو لوستونکو سره شریکه کاندم.

زیات و کم پنځوس کاله پخوا مې په کابل کې له اروابناد عبدالرحیم هاتف څخه واورېدل چې ده ته د عراق په یوه تجارتي سفرکې مرحوم خلیل الله خان خلیلي چې هغه وخت په بغداد کې افغاني سفیر وو، وویل چې د بغداد په یوه متحف (موزیم، د لرغونو آثارو محفظه) کې د میرویس نیکه یوه سِکه سته او دی ( خلیلي) په پام کې لرې چې د کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

موزيم ته ئي د انتقال له پاره له خپلو ډيپلوماتيکو اړيکو په مرسته اقدام وکړي. هاتف صاحب راته وويل چي ده خليلي ته مشوره ورکړه چي په بغداد کي ددې سِکي د ضايع کېدلو احتمال تر کابل لږ دئ ځکه نو مصلحت به دا وي چي سِکه همدلته خوندي وي او د معرفی له پاره ئي د هيواد په مطبوعاتو کي يو لړ مطالب خپاره سي.هاتف صاحب راته زياته کړه چي خليلي وروسته په دې باب يوه ليکنه خپره کړه. هاتف صاحب په دغه ورځ د هوتکي دورې په باب ډېري نوي خبري راته وکړې.ما چي په هغه وخت کي مي د زلميتوب کلونه ول او د افغانستان ددغي دورې پر تاريخ مي له مکتبي کتابو پرته نور څه لوستلي نه ول، د هاتف صاحب بيان ته مي په ډېر دقت غوږ نيولی وو. هاتف صاحب وويل چي ده دا معلومات په افغانستان کي د پولينډ له سفير دمانسويچ له خولي اورېدلي ول او زياته ئي کړه چي دمانسويچ څو کاله په ادبياتو پوهنځي کي مدرس وو او له ده سره د شاه محمود هوتک د جنګونو په باب يوه روزنامچه وه او ده موږ ته ئي ددغي روزنامچي له مخي معلومات راکول. هاتف صاحب دا هم وويل چي دغه کتاب په يوناني ژبه وو او تقريباً شپږ اووه سانتی پنډ وو.

ما چي څو کاله وروسته د مسيحي سياح کرو سينسکي ياداښتونه ولوستل ، زړه ته مي ولوېده چي د هاتف صاحب له خولي ياده سوې روزنامچه به غالباً همدا کتاب وو ځکه کروسينسکي خپل ياداښتونه وار د واره په لاتيني ژبه ليکلي ول.

د هاتف صاحب ددغو څرګندونو يادونه ما په ۲۰۰۷ع کال د علامه رشاد مرحوم " د کندهار ياداښتونه" په دوهم ټوک ۱۱۲مخ ، ۲۶مه حاشيه کي راوړې ده. هورې مي حافظي غلطي کړې وه او د خليل الله خان خليلي نوموړی مضمون مي د ژوندون مجلي پر ځای په آريانا مجله کي ګڼلی دئ او بل مي سِکه د سرو زرو بللي چي په اصل کي د سپينو زرو ده.

خليل الله خليلي ددغي سِکي په باب د ژوندون مجلي د ۱۳۵۳ش کال د جوزا د ۱۱مي ګڼي په ۱۹ مخ کي د"سِکه ميرويس نيا " تر سرليک لاندي معلومات خپاره کړل . "نيا" د پلرني او مورني نيکه معنا لري ( دهخدا) د نياکان کلمه ئي له مشتقاتو څخه ده.

په دې ليکنه کي ئي کښلي دي چي " يازده سال پيش ازين نگارش در بازگشت يکی از سفر های اروپا گذارم ... به بغداد افتاد. هنوز شيخ مورخان بغداد عباس العزاوی دست از قلم بر نداشته و انزوا نگزيده بود.

بياری جناب جنرال قاسم که دران هنگام سفارت افغانستان را در بغداد داشت، بديدار عزاوی شتافتم. استاد علی رغم شکستگی و پيری مرا در ميان گنجينه کتابهايش پذيرفت ... وی مرا بمحفظه سکوکش رهنموی کرد و چند سکه را بمن ارائه نمود... دران ميان سکه بود از سيم ناب که بنام ميرويس نيا ضرب زده بودند.

بديدن آن سکه انديشه آنکه ميرويس را سکه سلطنت نبوده از خاطرم زايل شد...

بهر حال آن دانشمند بزرگ چهره در پرده خاک نهفت و او را در قبرستان (شونيزيه)کنار يارانش خوابانيدند و ديگر مرا مجال آن نيست که ازان سفر کرده خاموش سجع سکه ميرويس نيا را باز پرسم ولی منت خدايرا گنجينه آثار وی موجود است و اينک آن حقيقت تاريخی را که فراموش کرده بودم و شايد اگر دو سه سال پيش به دوستی گفته بودم او نيز از ياد برده باشد، از کتاب وی استنساخ می نمايم."

دغه "دوست" چي مرحوم خليلي ئي له نامه پرته يادوي، اروابناد عبدالرحيم هاتف وو.

اروابناد خليلي ورپسي زياتوي:" ... در مجلد پنجم کتاب (العراق بين احتلالين) استاد عزاوی در چند صفحه در ضمن حوادث سال های قرن دوازدهم هجری ... در صفحه (۲۰۱) آن کتاب که مطبوع بغداد است و بزبان عربی چنين بيامده :" در تاريخ راشد واضح است که ( الامير اويس) در سال ۱۱۱۸ در قندهار ظهور نمود و بر اطراف مستولی شد و سپاهيان صفوی را مقهور کرد و شهر را از امير گرجی باز گرفت بنامش سکه زده و خطبه خوانده شد و در سکه وی اين بيت نوشته بود ،
سکه زد بر درهم دارالقرار قندهار
خان عادل شاه عالم ميرويس نامدار
و آنگاه استاد بيت مذکور را بعربی گردانيده.

معلوم است استاد عباس عزاوی که خود از محققان بنام است اين بيت را با تفصيلات ديگر از دو جا نقل نموده :
اول از سکه خود ميرويس
دوم از تاريخ راشد".


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

تر دې اوړدو اقتباسو وروسته غوره ګڼم چې د استاد عباس العزاوی او د هغه د کتاب ( العراق بين احتلالين)  او دغه راز د " تاريخ راشد" او د هغه د مولف په باب څېل تحقيق هم لوستونکو ته وړاندې کړم.

استاد عباس العزاوي (١٨٩٠ - ١٩٧١ع) چې مرحوم خليلي ئې " شيخ مورخان بغداد" او عربي منابع ئې" المؤرخ الكبير" بولي او بشپړ نوم ئې عباس بن محمد بن تامر بن محمد بن جادر البايزيد العزاوي دئ، د څېل وخت لوی مورخ او اديب وو.  نوموړی د عراق دالعزة قبيلې ته منسوب وو، څکه ئې له نامه سره العزاوي کيښ. العزاوي د عربو په ډېرو علمي ټولنو کې ئې غړيتوب درلود. پر  تورکي او فارسي ژبو ئې بشپړ برلاسی لاره. د خورا ډېرو معتبرو آثاروڅښتن وو چې په هغو کې ئې " تاريخ العراق بين الاحتلالين" زيات مشهور او څو پلا چاپ سوی دئ. دا کتاب په نهو ټوکو کې ترتيب سوی دئ او په وروستيو چاپونوکې ئې نوم " موسوعة تاريخ العراق بين احتلالين" دئ. موسوعة په عربي ژبه کې دائرة المعارف (Encyclopedia) ته وايي. دا کتاب هم د دائرة المعارف حيثيت لري او وروستي چاپونه ئې د " الدار العربية للموسوعات" له خوا خپاره سوي دي.

ددغه کتاب په پنځم ټوکي د " حوادث سنة ١١٣٣هـ - ١٧٢٠م" تر سرليک لاندې د ميرويس نيکه د پاڅون بيان راغلی دئ. ددغه ټوک له کوم چاپ څخه چې ما (هوتک) استفاده کړې ده د فهرست او اسماء الرجال ، اسماء الاماكن په ګډون ٤٠٨ مخه دئ او په ٢٣٣مخ کې ئې هغه عبارت  سته چې مرحوم خليلي ئې په ژوندون مجله کې دري ژباړه راوړې ده. اصل عبارت داسې دئ:

" و في تاريخ راشد أوضح أن الأمير أويس ظهر سنة ١١١٨ ه في أنحاء قندهار، و كان استولى على الاطراف و قهر جيش الشاه لمرات،

فانتزع المدينة من أميرها عبد الله خان الگرجي. و ضرب النقود و قرأ الخطبة باسمه. كتب على النقود هذا البيت:

سكه زد بر درهم دار القرار قندهار
خان عادل شاه عالم مير أويس نامدار"

دا بيت په يوه چاپ کې په سره رنګ او په بل چاپ کې په تور رنګ دئ. د دواړو چاپونو پي ډي ايف ئې په ګوګل  کې سته.

د خليلي په ترجمه کې د " عبدالله خان" نوم  نسته خو نوره ژباړه ئې په پوره امانتداری کړې ده. د پورتني بيت عربي ترجمه ئې العزاوي په دې ډول کښلې ده:

" أي ضرب على الدرهم قندهار ذات القرار الخان العادل سلطان العالم الأمير أويس الذائع الصيت."

د بيت تر ژباړې وروسته د ميرويس د وفات او د" الأمير محمود بن الأمير أويس" بيان په نسبتاً مشرح ډول ليکې چې تر ٢٣٨مخ پورې رسېدلی دئ. ددغه بيان په ترڅ کې د افغان کلمې او د افغانانو په باب لنډه څېړنه هم لري. په دې ډول به نو د ښاغلي جهاني صاحب هغه شک ته هم جواب موندل سوی وي چې د پورتني بيت فارسي ترجمه ئې د مرحوم خليلي ګڼلې ده.

عباس العزاوي دغه بيان د تاريخ راشد په حواله کښلی دئ او د تاريخ راشد په باب ئې د کتاب په مقدمه کې د ماخذونو د تشريح په لړ کې داسې کښلي دي:

"من الكتب التاريخية المهمة... و مؤلفه أبو المكارم محمد المعروف ب (راشد). كان شاعرا،و مؤرخا في التاريخ العثماني. و أبوه من أهل ملاطية. كان من الصدور و يعرف ب (مصطفى الملاطيوي) توفي باستنبول سنة ١١٤٨ ه- ١٧٣٥ م."

ترجمه: ... د تاريخ له مهمو کتابو څخه دئ ... او مؤلف ئې ابوالمکارم محمد دئ چې په راشد سره شهرت لري. دی شاعر او د عثماني تاريخ مورخ وو.پلار ئې د " ملاطيه" اوسېدونکی او له مخورو څخه وو او په " مصطفى الملاطيوی" ئې شهرت لاره. په ١١٤٨هـ - ١٧٣٥م کال په استنبول کې وفات سو."

د راشد پلار د ميرويس نيکه د عصر سړی وو .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

د تاریخ راشد کتاب ما ( هوتک) ونسو موندلای خو  مرحوم خلیلي پخپله لیکنه کي کښلي دي : " من در جستجوی کتاب تاریخ راشد شدم در کتابخانه موزیم بغداد نسخه ئی ناقص ازین کتاب موجود است که در سال ۱۱۵۳ بزبان ترکی در مطبعه سنگی در قسطنطنیه طبع گردیده  و کتابیست فی حد ذاته پُرمایه و غنی و مستند که در عصر واقعه تالیف گردیده."
دا کتاب د میرویس نیکه تر وفات ۲۶ کاله او د هوتکو د پاچهی تر ړنګېدو درې کاله وروسته چاپ سوی دئ. مولف ئي د حوادثو  نژدي ناظر وو.
چي خبري سره راغونډي کړم، د میرویس نیکه په نامه د وهل سوي سکي جریان لکه مرحوم خلیلي چي هم کښلي دي، له دوو منابعو څخه تر موږه رارسېدلی دئ چي یوه منبع ئي د العزاوي په کلکسیون ( محفظه) کي پخپله ساتل سوي سِکه ده او بل ئي د تاریخ راشد لیکل سوی روایت. که د هانوي د تاریخ کمزوري روایتونه یوي خوا ته پرېږدو، د العزاوي همدا دوه سندونه د نوموړي سِکي موجودیت د افساني له حکمه را بېلولای سي. زموږ ځیني منتقدین چي د کومي موضوع په باب معلومات نه لري او پر ځان ئي هم د نور تحقیق ستونزه منلي نه وي، په جرئتمندانه توګه د مسلّماتو په باب د افسانو حکم صادروي او دا عادت د خواشیني وړ دئ. ما ددغي سِکي په باب ځيل یاداښتونه له لوستونکو سره شریک کړل، نور مو خوښه چي افسانه ئي بولئ که حقایق.

آشاوا ـ کاناډا
اوله د جون ۲۰۲۲ع


و في تاريخ راشد أوضح أن الأمير أويس ظهر سنة ١١١٨ ه في أنحاء قندهار، و كان استولى على الاطراف و قهر جيش الشاه لمرات،

٢٣٤

فانتزع المدينة من أميرها عبد الله خان الگرجي. و ضرب النقود و قرأ الخطبة باسمه. كتب على النقود هذا البيت:

سكه زد بر درهم دار القرار قندهار ** خان عادل شاه عالم مير أويس نامدار

أي ضرب على الدرهم قندهار ذات القرار الخان العادل سلطان العالم الأمير أويس الذائع الصيت.

و توفي بعد سنوات من استيلائه فخلعه أخوه إلا أنه لم يكن من رجال الحكم فخلع بعد ستة أشهر، و اختير الأمير محمود بن الأمير أويس للحكم. و لم يهدأوا من حرب ايران و استولوا على مواطن عديدة.

د تاریخ العراق بین الاحتلالین روایت


یادی از گذشته
سکه میرویس نیا

په ژوندون مجله کي د مرحوم خلیلي لیکنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ